مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي ناروغ ۲۰۲۰/۱۱/۰۲

# غــــزل

هغـــه تا چــې وم لیـدلــی نـــور نـــو نــه یـم
اوس پـه زړه لــــکــه غنـــم چـــودلـــی یـمــه

د روزگــار پــه بازار وچي شــونـدې گــرځـم
یــو څــه یــار بل څـــه اغیـار زبیښلی یمــه

هغـــه ســـتا په شـــان یاران نه پیـــدا کیــږي
اوس یی یو پــربل صـد بــار خرڅ کـړی یمه

پــه پښــــتو راســره گــډ وي پــه ســـند رو
پـــه سیـــنه یـــې لــــکه مــار چیـــچلی یـمه

لـه اغـــزونـه گیــلـه مــه کـــوه دلبــــره
زه د ســـــرو گــلو انـــگار، سیـځلی یــمــه

ولي ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ